دوه نعمتونه داسې دي چې ډېرى خلک يې له پامه غورځوي: روغتيا او فارغ وخت

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دى وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «دوه نعمتونه داسې دي چې ډېرى خلک يې له پامه غورځوي: روغتيا او فارغ وخت».

[صحيح دى] [بخاري روايت کړى دى]

نبي صلى الله عليه وسلم د الله تعالى له دوو لويو نعمتونو څخه خبر ورکړى، چې ډېرى خلک پکې تاواني کېږي، ځکه هغوى دا نعمتونه په ناسم ځاى کې لګوي؛ کله چې انسان ته روغتيا ورکړل شي او ورسره وزګار وي، نو په عبادت کې پرې سستي او تمبلي راځي چې پدې سره تاوانى دى او د ډېرو خلکو همدا حال دى، خو که خپل خالي وخت او روغتيا يې د الله په عبادت مصرف کړل کامياب دى؛ ځکه دنيا د آخرت کرونده ده، او دلته هغه تجارت دى چې ګټه يې په آخرت کې څرګندېږي، خالي وخت پسې بوختيا راځي، روغتيا پسې ناروغي راځي، او که بل څه نه وي، نو زوړوالى (هرم) پخپله (د نعمتونو د پاى ته رسېدو لپاره) بس دى.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5449